نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۳/۰۸/۲۲

# "استاده ستا حافظه خرابه شوې که عقیده؟"

د اتحاد اسلامي ګوند مشر او د دعوت جهاد پوهنتون رئيس شيخ الحديث استاد عبدالرب رسول سیاف وویل: ګورئ که یو تن کمونیسټ په اسلامي حکومت کې راګډ کړو، نو ټول اسلامي حکومت د فاسد حکومت حکم لري، او بیا هغه حکومت شرعا د اسلامي حکومت حکم نه لري.
که تاسي واوریدل او چا وویل چې موږ سیاف له ظاهر شاه سره یوځای ولیدی، داسي فکر مه کوئ چې ظاهر شاه مسلمان شوی دی، یوه شئ چې سیاف ورسره کافر شوی دی.
زموږ ټولو حافظې ډیرې کمزورې شوې دې، د پرون او تیرو ورځو خبرې، وعدې او ژمنې مو ډیر ژر له یاده وځي، په خوا ښه وو، دغه رنځ به یواځې په هغو کسانو کې وو چې عمر به یې ډیر وو، اوس زموږ ځوانان هم په دغه رنځ اخته شوي، د مشرانو او سیاسي لوبغاړو د پرون خبرې یې له مغزو ډیر ژر وځي، نویو ځوانانو او دا ډول پرونیو مجاهدینو او کمونیسټانو ته د رهبرانو، واکمنو او چارواکې د هرې ورځې هره خبره نوې ښکاري، د هغوی هر خبره او ژمنه له پرون سره نه پرتله کوي، همدا لاملونه دي چې موږ وروسته پاتي یو، پرون په یو سیاسي رهبر او مشر پسي روان وو، نن په بل سیاسي مشر او رهبر پسي او سباء بیا د بل سیاسی مشر په خبروغولیږو.
دعوت او جهاد پوهنتون چې د عربو په مالي او علمي مرسته د استاد سیاف د هجرت په ټاټوبي د پیښور په جلوزو کیمپ کې جوړ شوی وو، یو نوم وتی پوهنتون وو، دهغه وخت په ټولو موډرنو عصري وسایلو او لابراتوارونو مجهز پوهنتون وو او د لوړو افغان او عربو علمي کدرونو له خوا محصلینو ته پکې تدریس کیده.
یوه مجهزه لیلیه یې درلودله چې نږدې د افغانستان د ټولو ولایتونو څخه د بېلابېلو اسلامي ګوندونو محلصینو په هغه لیلیه کې ژوند کاوو.
د محصلینو له پاره ډول ډول دیني او علمي پروګرامونه په نارسمي وختونو کې د لیلې دننه د پوهنتون په تدریسي پروګرام کې نیول کېدل.
حدیث ثلاثاء یوهغه پروګرام وو، چې په اونۍ کې به یوه ورځ د محصلینو له پاره د بېلابېلو اسلامي ګوندونو مهم او مشر سیاسي کسان پوهنتون ته راتلل او محصلینو ته به یې د هغه وخت او سیاسي حالاتو اړوند ویناوي او معلومات ورکول، چې د محصلینو پوښتنوته به یې هم ځوابونه ویل.
استاد سیاف چې د دعوت او جهاد پوهنتون رئیس او مشر وو، خپله به هم ډیر ځله دغه د حدیث ثلاثاء د ورځې وینا محصلینو ته کوله، ولي استاد یاسر او د اسلامي حزب، اسلامي جمعیت او نورو ګوندونو سیاسي مشران به هم په دغو ورځو کې د ویناء له پاره د پوهنتون د ادارې له خوا را غوښتل کیدل.
استاد سیاف چې به کله د دعوت او جهاد پوهنتون محصلینو ته وینا واوروله، نور به ډیر ژر له دریځ څخه کښته شو، او له پوهنتون څخه به ووت، د محصلینو پوښتنو او د ده له خوا ځوابونو ته به یې ځان نه چمتو کاوو، او ویره یې درلودله چې دمحصلینو له ربښتینو او سختو پوښتنو سره به مخ شي، چې د ځواب کولو او محصلینو د غولولو توان به ونه لري.
کله چې په کابل کې د شاه نواز تڼي د ډ اکټر نجیب الله د وخت دفاع وزیر کودتاه ناکامه شوه، اوهغه پاکستان ته پناه یوړه، د اسلامي حزب مشر حکمتیار د هغه له کودتاه څخه ننګه وکړه او شاه نواز تڼي سره یې ښې اړیکې ټینګې کړې.
استاد سیاف د حدیث ثلاثاء د ورځې په وینا کې د دعوت او جهاد پوهنتون محصلینو ته په همهغو ورځو کې چې شاه نواز تڼی تازه پاکستان ته تللی وو، وویل!
استادانو او محصلینو! ښه غوږ ونیسې زما خبرې ته ځواب راکړئ، که چېرته یو سطل (د اوبو غټ لوښی) وي، او سطل له پاکو او رڼو او اوبو څخه ډک وي، دغه سطل ته یو څاڅکی وینه ورګډه کړو، آیا دغه اوبه شرعا څه حکم لري؟ د پاکو او که ناپاکو اوبو حکم به پري کیږي؟
ګردو محصلینو په یوه خوله وویل چې: هو د سطل اوبه په یو څاڅکې اوبو سره چټلیږي او بیا د پاکو اوبو حکم نه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د اتحاد اسلامي ګوند مشر او د دعوت جهاد پوهنتون رئیس شیخ الحدیث استاد عبدالرب رسول سیاف وویل: ګورئ که یو تن کمونیسټ په اسلامي حکومت کې راګډ کړو، نو ټول اسلامي حکومت د فاسد حکومت حکم لري، او بیا هغه حکومت شرعا د اسلامي حکومت حکم نه لري.
انجنیر غلام نبي دهغه وخت محصل وايي چې د محصلینو له غوښتنو او ټینګار سره سم استاد عبدالرب رسول سیاف وعده وکړه چې په راتلونکې کې به د حدیث ثلاثاء په ورځ محصلینو ته د پوښتنو کولو وخت ورکوي او د محصلینو پوښتنو ته به ځواب وایي.
کله چې استاد سیاف د مجاهدینو د عبوري حکومت صدراعظم وو، په هغه وخت کې استاد رباني او ورسره هیئت یې روسیې ته د روسانو سره د خبرو له پاره ولاړی.
محصلینو د حدیث ثلاثاء په ورځ د استاد له وینا وروسته پوښتنه وکړه، چې استاده، تاسي د عبوري حکومت صدراعظم یاست، او که چېرته استاد رباني او ورسره هیئت یې روسیې ته تلی، باید چې ستاسي نظر یې هم غوښتی وای، او د روسانو سره د خبرو کولو په اړه یې سلامشوری درسره کړی وای؟
استاد سیاف په ډیر لنډ ډول ځواب ورکی: هو له ما سره یې په دې اړه هیڅ ډول خبره نه ده کړه، هغه د کندهاریانو خبره په دې کې غوټ درته مات یم.
یو بل محصل پوښتنه وکړه چې استاده! تاسي ته چې د ملګرو ملتونو استاذی بین سیوان د افغانستان د ستونزي د حل په اړه هره طرحه راوړي تاسي یې مخالفت کوئ، د دې لامل څه دی؟
استاد سیاف ځواب په دې ډول ورکی: کښ مټ همدغه پوښتنه زما څخه عربو شیخانوهم وکړه، چې زه ولي هرځل د ملګرو ملتونو د طرحو مخالفت کوم، هغوی ته ما ځواب داسي ورکړ:
تاسي ټول ماته راغلي یاست، خبري او مجلس کوو، ناست یو، غرمه شوه، د ډوډی وخت دی، تاسي ډیر سخت وږي یاست، او نور غواړئ چي ډوډی وخورو، زه د ډوډی میز ته د تګ غوښتنه درڅخه کوم، تاسي ټول د ډوډی میز ته په چوکیو کښینئ، زه تاسي ته په یوه غاب کې د خنځیر غوښه ږدم، په بل غاب کې درته د سپي غوښه ږدم، په دریم غاب کي درته د خره غوښه ږدم، او دا ډول په نورو غابونو کي هم د حرامو ځارویو غوښه ږدم، تاسي د کوم غاب غوښه خورئ؟
عربو شیخانو ماته وویل چي موږ دیوه غاب غوښه هم نه خورو، ځکه ټول حرام شیان دی، ما ورته وویل چي د بین سیوان هره طرحه چي ماته راوړي هغه د دغه ډول حرامو غوښو د غابونو په ډول وي، چي زموږ د مجاهدینو او مسلمانانو په ګټه نه وي.
انجنیر احمد شاه احمدزی وایي چي د روسانو سره د جهاد پرمهال چي موږ په پېښور کي وو، د بینظر بوټو حکومت وو، یوځل هغي غوښتنه کړي وه چي د اتحاد اسلامي د ګوند مشر ښاغلی استاد عبدالرب رسول سیاف په اسلام آباد کي ورسره ووینې، د پیغام په رارسیدو استاد ماته وویل چي انجنیره! دغه د بینظیرې مجلس ته به ته ورځي، زه نه ورځم، او نه غواړم چي له ښځو سره کښینم او مجلس وکړم. ځکه چي هغه زما محرمه نه ده او اسلام ماته جواز نه راکوی چي له پردیو ښځو سره خبري وکړم.
استاد سیاف په یوه تاریخي وینا کي د ډیرو مجاهدینو او مهاجرینو په مخ کي ویلي چي: اي مجاهدینو اومهاجرینو! ظاهرشاه داسي کافر دی چي دهغه د مسلمان کېدو هیڅ امکان نشته، هغه په هیڅ ډول سره نشي مسلمان کېدلای.
او هرهغه څوک چي له ظاهرشاه سره یوځای شی، ظاهر شاه نه شي مسلمان کولای، بلکه هغه مسلمان به هم کافر کوي.
که تاسي واورېدل او چا وویل چي زه (سیاف) له ظاهر شاه سره یوځای ولیدی، داسي فکر مه کوئ چي ظاهر شاه مسلمان شوی دی، یوه شئ چي سیاف ورسره کافر شوی دی.
اوس چي د راتلونکو انتخاباتو له پاره ډیری کسان نوماند دی، چي یو هم یکي استاد عبدالرب رسول سیاف دی، فکر کوم هغه د محصلینو په مخ کي چي یې ویلي وو چي پر یو ځاځکي وینه د سطل ګرده اوبه شرعا د ناپاکو اوبه حکم لري اوپه اسلامي حکومت کي د یو کمونیسټ ګډون سره اسلامي حکومت فاسدیږي، هغه خبره یې له حافظي څخه وتلي ده.
که اوس هماغه محصلین له استاد سره مخامخ شي او هماغه ډول د پوښتنو موقع په لاس ورشي، نو حتماً به تري پوښتنه وکړي چي: استاده ستا عقیده خرابه شوي که حافظه؟
جنرال طاقت دی خیر یوسي هغه که څه هم د استاد له پورته خبري خبر نه وو، خو سم ځواب یې ورکړی وو، کله چي استاد سیاف له جنرال طاقت (پخوانی د کمونیسټ حکومت د خاد یا ملي امنیت رئیس) څخه په راتلونکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

انتخاباتو کې د مرستې غوښتنه کوي، جنرال طاقت ورته وايي چې موږ او تاسې نه شو سره يو کېدلای، او نه هم ګډ کار سره کولای شو.
ولسمشر کرزی بيا وايي چې که استاد سياف ولسمشر شي نو يو کال هم حکومت نه شي کولای، لکه د مصر د عزل شوي ولسمشر مرسي په ډول به ډير ژر له حکومت څخه ليرې کړل شي.
جمعيت اسلامي، حزب اسلامي، عبدالله عبدالله او يونس قانوني هم منفي ځواب ورکړی دی، او ورته ويلي يې دي چې په انتخاباتو کې له استاد سياف څخه ملاتړ نه کوي.
اشرف غني بيا استاد سياف ته پيغام ليږلي چې زه غواړم تاسې وبخښم، خو په دې شرط چې نور له پخوانيو خبرو، کړنو او خپلو تيرو عملونو څخه لاس واخلئ، دامعنی چې بيا ستاسې له خولې د مجاهد او جهاد خبره وانه ورم، او نه بيا واورم چې تاسې ته په حکومت کې لويه برخه درکول شي.
اوس يواځې امريکا ده چې ډيرو کسانو ته يې ډول ډول تمې ورکړې، چې يو هم پکې استاد ګرامي دی، ډير ژر به هغوی هم ورته ووايي چې موږ ټوله هڅه وکړه، ولې تاسې په نړيواله کچه په جنګي جرايمو ککړياست، له دې امله ملګري ملتونه او ځينې هيوادونه ستاسې په اړه منفي نظر لري، او مهمه داده چې افغان ولس هم تاسې نه غواړي، موږ او تاسې په دې اړه ډير ښه مجلسونه سره درلودل، په راتلونکې کې به هم ښې اړيکې سره ساتو.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ